# د BEGAP پروګرام لارښوونې

## د پروګرام بیاکتنه

د ورمونټ د سوداګرۍ او ټولنیز پرمختګ اداره [Vermont Agency of Commerce and Community Development] خوښه ده چې د سوداګرۍ بېړني حالاتو د مرستې پروګرام [BEGAP] (Business Emergency Gap Assistance Program) جوړولو اعلان کوي. دا د 20 میلیونه ډالرو د بسپنې پروګرام د هغه کاروباري او بې ګټې ادارو لپاره دی کوم چې پر جولای 7، 2023 د فزیکي زیان سره مخ شوي دي. دا تمه نه کېږي چې دا پروګرام به ځوک پوره کړي خو موخه یې دا ده چې چټکه مرسته وړاندې کړي ترڅو اداري ژر تر ژره بیا خلاصې شي او خپل کارمندان بیرته کار ته راولي. غوښتنلیکونه به په دوامداره توګه تصویبولی شي ترڅو ټولې مالي زېرمې ولګول شي.

***که چېرې تاسو انګلیسي ویونکي نه یئ او د ژباړې مرستې ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ د ACCD کاري ډلې ([ACCD.BizFloodGrant@Vermont.Gov](mailto:ACCD.BizFloodGrant@Vermont.Gov)) سره اړیکه ونیسئ ترڅو د ژباړې د ایالتي قراردادي سره پېوست شئ.***

### **د غوښتنه کوونکي وړتیا:** هغه کاروباري او بې ګټې اداري چې د 7 جولای، 2023 څخه پیلېدونکو سېلابونو په اوږدو کې د فزیکي زیان سره مخ شوې وي.

**د وړتیا لرلو لپاره غوښتنه کوونکی باید کاروبار یا بې ګټې اداره وي کوم چې لاندې معیارونه پوره کوي:**

- د جولای 2023 د سېلابونو څخه مخکې جوړه شوې وي
- د فزیکي شتمنۍ زیانونه باید په ورمونټ کې وي
- د کاروباري چارو ځای او/ یا کاروباري اثاثي باید د جولای 2023 د سېلابونو له امله د فزیکي زیانونو سره مخ شوې وي
- د BEGAP د بسپنې لپاره، په فزیکي زیانونو کې شتمنۍ ته رسېدلی زیان، د ایجارې د شیانو پرمختګونه، بیچکونه، اثاثات، مشینري، او تجهیزات شامل دي.
- اراده لري چې هم په دغه ځای کې یا په ورمونټ کې بل چیرته کاروبار پرانزي او د بسپنې مالي زېرمې به هم د دې موخې لپاره کاروي.

**لاندې ورکړل شوې وړتیا نه لرونکې اداري دي:**

- ښاروالۍ
- کاروباري یا بې ګټې اداري چې یوازې د اقتصادي زیان (مالي زیان) سره مخ شوې وي

## د بسپنې حساب

BEGAP به د غوښتنه کوونکو مرسته کوي چې خپل د **<u>ټولو ناپوښلي</u>** زیانونو یوه برخه ترلاسه کړي. ټول ناپوښلی زیان د بیمې، اضافي مرستو، او بسپنو لېږې کولو څخه وروستو زیان دی.

د هغه غوښتنه کوونکو لپاره چې د ټولو ناپوښلي زیانونو په برخه کې له 1,000,000 ډالرو څخه کم لري:

- د ټول ناپوښلي زیان څخه 20٪ کم یا 20,000 ډالره

د هغه غوښتنه کوونکو لپاره چې ټول ناپوښلي زیانونه یې د 1,000,000 څخه زیات وي:

- بسپنه د ټولو ناپوښلي زیانونو د 20% څخه کم حسابېږي یا
- 100,000 ډالره که چیرې غوښتنه کوونکی د 1 او 10 *FTEs ترمنځه کاروي
- 250,000 ډالره که چیرې غوښتنه کوونکی د 11 او 50 FTEs ترمنځه کاروي
- 500,000 ډالره که چیرې غوښتنه کوونکی له 50 FTEs څخه کم کاروي

غوښتنه کوونکی کولی شي د درې بېلابېلو شتمنیو لپاره درې غوښتنلیکونه وړاندې کړي.

هغه غوښتنه کوونکي چې له یوې شتمنۍ څخه د زیاتو لپاره غوښتنلیکونه وړاندې کوي په داسې حال کې چې زیانونه له 1,000,000 ډالرو څخه زیات وي، یوازې د یو غوښتنلیک لپاره د زیات کړل شوې بسپنې (له 20,000 ډالرو څخه پورته) لپاره وړتیا لري.

*FTEs د سېلاب څخه مخکې د ورمونټ پر اساس د بشپړ وخت کارمندانو برابر مقدار دی

## د غوښتنه کوونکي مالومات

غوښتنلیک به له ټول غوښتنه کوونکو څخه غواړي ترڅو لاندې مالومات وړاندې کړي. غوښتنه کوونکي باید لاندې معلومات چمتو وي:

- د اړیکې مالومات
- د زیانمن شوې شتمنۍ ځای او د څښتنوالۍ جزئیات
- د استخداموونکي د ټېکس ټاکنې فدرالي شمېره (FEIN)
- د بیمې د پالیسۍ مالومات
- په ډالرو کې د زیانونو مقدار چې د بیمې له لارې ترلاسه کېدو اټکل یې کېږي
- نورې بسپنې یا مرستې چې ترلاسه شوې وې او ستاسو د کاروبار پرځای کولو یا بیا پرانستلو لپاره کارول شوې وی.
- پر غوښتنه کوونکي د اسېلاب د اغېز بیان
- د زیان ډول او د مرمت/بیا پرځای کولو لپاره اټکلي لګښتونه
- د اقتصادي زیان اټکل او بیان (اټکلي یا اصلي مالی زیان)

## اړین سندونه:

- تر ټولو وروستی د ټیکس فدرالي کچه [Federal Tax Return] (یا 990)
- د ګټې او زیان بیان لیک که چیرې کاروبار په 2023 کې پیل شوی وي
- تازه د IRS فورمه 9-W
- د ادعا کېدونکو زیانونو لپاره ملاتړي سندونه (د بیمې د سمونونو راپور، کاروباري اټکلونه)
- د فزیکي ساختمانونو، الاتو، بیچک، د سامانونو اخیستنو مرمتي اټکلونه یا اصلي تادیه شوي لګښتونه
- د زیانمنې شوې شتمنۍ تصویرونه (زیات نه زیات 5)
- د شتمنۍ د څښتنوالۍ ثبوت (که د تطبیق وړ وي)

## اضافي پاملرنې

- نابشپړ غوښتنلیکونه به غوښتنه کوونکو ته د بیاکتنې لپاره بیرته لېږلی شي او په پروسیس کولو کې به ډېر وخت ونیسي.